دافغانستان اسلامي امارت

دپوهنې وزارت

دغزني ولايت پوهنې رياست

د تضمين كيفيت آمريت

د څارنې او ارزونې عمومي مديريت




# دغزني ولايت د پوهنې رياست د عملياتي پلان د کړنو د پرمختګ کلنی تشریحي راپور

د راپور ورکولو دوره : حمل - حوت کال ۱۴۰۳

# د مطالبو نوملړ


د ۱۴۰۳ کال دیو کلن راپور ترتیب کوونکو نوملړ ........ 8

**د ولایت په هکله عمومي معلومات/ ولایتي پروفایل ........ 9**

**سریزه ........ 10**

**د کړنو لنډیز ........ 11**

**د پوهنې د درې ګونو عرصو پر بنسټ د عملیاتي پلان د کړنو پرمختګ ........ 14**

**لومړی برخه: کیفیت او تړاو ........ 14**

**۱. پروګرام: ښوونه او روزنه ........ 14**

**۲. اسلامي زده کړې ........ 16**

**۳. د کیفیت تضمین ........ 16**

**۴. سرچینې او اداره ........ 18**

**۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور) ........ 19**

**دویمه برخه: انډولیز لاسرسی ........ 20**

**۱. ښوونه او روزنه ........ 20**

**۲. اسلامي زده کړې ........ 22**

**۳. د کیفیت تضمین ........ 24**

**۴. سرچینې او اداره ........ 24**

**۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور) ........ 25**

**3 برخه: آغېزمن، روڼ او ځواب ویونکي مدیریت ........ 25**

**۱. ښوونه او روزنه ........ 25**

**۲. اسلامي زده کړې ........ 27**

**۳. د کیفیت تضمین ........ 28**

**۴. سرچینې او اداره ........ 28**

**۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور) ........ 29**

**د غیر پلاني فعالیتونو او لاسته راوړنو برخه ........ 31**

**تحلیل او پایلې ........ 33**

**د پام وړ ستونزې او وړاندیز شوې حل لارې ........ 71**

**مالي راپور ........ 72**

**ملپاڼې ........ 73**

## د ۱۴۰۳ مالي کال د کلني راپور د ترتیب کوونکو نوملړ

| نوم او کورنی نوم | دنده | برېښنا لیک | ګرځنده شمېره/واتساپ | لاسلیک |
|---|---|---|---|---|
| عزیز الله "مشعل" | د تضمین کیفیت آمر | azizullahmashal2@gmail.com | 0795510226 | |
| مولــــوي محمدابراهیم "حنفي" | دعمومي زده کړو آمر | نلري | 0793727628 | |
| مولوي زین الدین "ناصر" | مالي او اداري آمر | zainudinnasir@gmail.com | 0794090461 | |
| مولوي نجیب الله "سعید" | داسلامي زده کړو آمر | najibullahsaeed79@gmail.com | 0790772884 | |

د پوهنې د رئیس تاییدي:

| نوم او کورنی نوم | دنده | برېښنا لیک | ګرځنده شمېره/واتساپ | لاسلیک |
|---|---|---|---|---|
| الحاج مولوي میرنصیراحمد "حسیني" | دپوهنې رئیس | نلري | 0792671844 | |

## د ولایت په هکله عمومي معلومات/ ولایتي پروفایل




غزني ولایت د هیواد له پلازمېنې کابل څخه په ۱۳۵ کیلومترۍ کې جنوب ختیځ ته پروت ولایت دی چې د شمال ختیځ له لوري دلوگر ولایت، د شمال له لوري د وردگ ولایت، د شمال لوېدیځ له لوري دبامیانو ولایت، د لوېدیځ له لوري د ارزگان ولایت، د سویل لوېدیځ له لوري د زابل ولایت، د سویل ختیځ له لوري دپکتیکا ولایت او د ختیځ له لوري د پکتیا ولایت سره پوله لري.

د افغانستان هره لویشت خاوره د لرغونو مدنیتونو استازیتوب کوي، کله یې د نورو ملکونو څخه راغلي تمدنونه په افغاني خېره اړولي او بیا یې په نوي رنگ او ډول پراختیا ورکړې او د نړۍ د تاریخ ځلانده سرلیک یې گرځولی دی، او کله یې د خپلو میشتو وگړو په زیار او میراني د نوي مدنیت بنسټ ایښی او د هغه د پراختیا لپاره یې د ویاړه ډک گامونه پورته کړي دي چې د غزني لرغوني سیمه یې د ثبوت ښه بیلگه ده. د ۲۰۱۳ ز کال احصایې له مخې د دغه ولایت نفوس ۱۳۶۸۸۰۰ کسان اټکل شوي دي، چې ۶۰۲۹۶۵ تنه یا ۶۰٪ سلنه یې پښتانه، ۳۰۴۰۰۰ تنه یا ۳۲٪ سلنه یې هزاره او ۵۲۰۰۰ تنه یا ۴٫۷٪ سلنه یې تاجیکان او پاتې برخه یې هند ، سک او نور خلک دي.

د اسلامي ثقافت پلازمینه غزني ولایت په ۱۳۹۲ کال کې د لومړۍ درجې ولایت په توگه د وخت د دولت له لوري منظور شوی دی او په خپله اډانه کې د مرکز په شمول ۱۹ اداري واحدونه لري چې عبارت دي له: اندړ، قره باغ، مقر، گیلان، آب بند، گیرو، واغظ، زنخان، رشیدان، ناوه، خوگیاني، دهیک، جغتو، اجرستان، جاغوری، مالستان، ناهور، خواجه عمری او مرکز.

انگور ، بادام، مڼې ، زردالو، غنم، اوربشی، لوبیا، کچالو، پیاز، جواری، او داسې نور یې مهم زراعتي پیدا وار دي.

د غزني ولایت اوسیدونکي له ښوونې او روزنې سره ډیره مینه لري د پوهنیز نظام د پراخوالي په موخه د ډیرو لاس ته راوړنو شاهد دي ترڅو زده کوونکي په ټولو کچو کې پوهه، مهارتونه، چلندونه او ارزښتونه چې د یو سالم، مسؤلیت منونکي او تولیدونکي وگړي لپاره اړین دي ترلاسه کړي چې په لاندي برخو کې تر ځیړنې لاندي نیول شوي دي.

د غزني ولایت په کچه ټولټال۱۶۴۴ بابه ښوونیز مرکزونه شتون لري چې د هغې له جملې څخه ۶۸۴ بابه د عمومي زده کړو دولتي مرکزونه دي ، چې په یادو مرکزونو کې ټولټال ۸۱۵۴ تنه مامورین، ښوونکي او خدماتي کارکـــــوونکي چې ۱۸۰۵ تنه یې ښځینه دي په دندو بوخت دي. په دې مرکزونو کې ټولټال ۴۳۰۴۶۰ تنه زده کووونکي چې ۲۶۸۱۶۶ تنه یې نارینه او ۱۶۲۲۹۴تنه یې ښځینه دي تر زده کړې لاندې نیول شوي دي.. همدارنگه ۱۰۷ بابه دخصـــــــــوصي زده کړو مرکزونه دي چې په یادو مرکزونو کې ټولټال ۱۴۴۳تنه مامورین، ښوونکي او خدماتي کارکوونکي فعالیت لري چې ټولټال ۴۰۹۴۶ تنه زده کووونکي چې ۲۷۲۳۱ تنه یې نارینه او ۱۳۷۱۵ تنه یې ښځینه زده کوونکي دي په زده کړو په کې بوخت دي.

همدارنگه یاد ولایت کې ۸۵۳ بابه د اســــــلامي زده کړو مرکزونه شتون لري، چې په یادو مرکزونو کې ټولټال ۳۲۱۴ تنه مامورین،ښوونکي او خدماتي کارکوونکي فعالیت کوي.د اسلامي زده کړو په مرکزونوکې ۳۰۸۶۶ تنه زده کووونکي چې ۱۹۰۵۱ تنه یې نارینه او ۱۱۸۱۵ تنه یې ښځینه دي په زده کړو بوخت دي.

## سریزه

**بسم الله الرحمن الرحيم**

**الحمدلله رب العلمين و الصلاة و السلام على سيد المرسلين و على آله و اصحابه اجمعين. امابعد:**

د غزني ولايت کلنی عملیاتي پلان د پوهنې وزارت د عملیاتي پلان موخو ته د رسیدو په پار په دریو برخو (کېفیت او تړاو، انډولیز لاسرسی او روڼ او ځواب ویونکی مدیریت) کې جوړ شوی دی او د دې ولایت د مرکز، ولسوالیو، کلیو او بانډو په کچه د پلي کېدو په حال کې دی، چې د پرمختګ د څرنګوالي په اړه یې د راپور ورکولو مهال ویش سره سم په کمي او کېفي بڼه منظم میاشتني، دري میاشتني او کلني راپورونه چمتو او اړونده ادارو ته استول کېږي.

د عملیاتي پلان د پرمختګ تشریحي راپور جوړولو یوازینی موخه د پلانونو د تطبیق او فعالیتونو د پرمختګ له څرانګوالي څخه په بیلا بیلو وختونو کې ډاډ تر لاسه کول دي تر څو د اداري بیلا بیلو برخو د لاسته راوړنو، ستونزو، ننګونو، ضعف او قوت نقطو څخه معلومات تر لاسه او د دغه نقطو په رڼا کې خپل راتلونکي پلانونو او اړوند چارو ته بڼه والې ور وبخښي.

د غزني ولايت پوهنې ریاست د فعالیتونو او لاسته راوړنو د راپورونو د لیړد په دوام د ۱۴۰۳ کال د عملیاتي پلان د کړنو د پرمختګ کلنی راپور د دري عرصو په رڼا کې چې پورته ذکر شوي دي چمتو او د حمل میاشتې څخه د حوت میاشتې تر پایه پورې د اعتبار وړ او د لاندې برخو درلودونکی دی.

۱ ـ د کړنو لنډیز برخه

۲ـ د دریو عرصو په اساس د فعالیتونو د تشریح برخه

۳ـ د غیر پلاني فعالیتونو برخه

۴ـ د پایلو اوتحلیل برخه

۵ـ د عمده ستونزو او وړاندیز شویو حل لارو برخه

۶ـ مالي راپور برخه

۷ـ ملپاڼو برخه

# لومړی برخه

## د کړنو لنډيز

### کیفیت او تړاو برخه

#### ښوونه او روزنه

- د مسلکي پراختيا غړو له لوري د ۳۶۳ بابه سواد زدکړې کورسونو څخه څارنه تر سره شوې ده.
- ۲۷۵ تنه علمي غړي د علمي افکارو، مسؤليت منلو او ښه چلند په برخه کې د چمتو شويو زده کړه ايزو پروګرامونو څخه برخمن شوي دي.
- ۲۵۱ تنه لابرانټ ښوونکو ته د ساينس، رياضي او کمپيوټر په برخو کې روزنيز پروګرامونه چمتو شوي دي.
- ۱۶۸ تنه زده کوونکي، ۱۸۷ تنه ښوونکي او ۵۶ تنه اداري غړي د معلوليت لرونکو ماشومانو د حقونو په اړه د چمتو شويو زده کړه ايزو پروګرامونو څخه برخمن شوي دي.
- د سيمه ايزو خلکو له لوري د غزني ولايت په مرکز او ۱۸ ولسواليو کې ۱۴۹ د سواد کميټو غونډې تر سره شوي دي.

#### اسلامي زده کړې

- د ۶ باب دارالعلومونو څخه کتنه تر سره شوې ده چې د يادې کتنې په ترڅ کې د ۱۳ په شمير اړتياوې معلومې شوي دي.
- د ۴۹۰ بابه مدرسو څخه کتنه تر سره شوې ده. چې د يادې کتنې په ترڅ کې د نوموړو مدرسو ۷۲ اړتياوې معلومې شوي دي.
- د اسلامي زده کړو آمريت له لوري ۵۱۱ تنه د مدرسو فارغان په عاليه او عالميه ازموينو کې ثبت شوي او د ثبت پروسه لا هم تر کار لاندې ده.

#### کيفيت تضمين

- د احصايې او معلوماتو عمومي مديريت له لوري د کيفيت لرونکي احصايوي ارقامو د راټولولو په موخه ۴۸ د ظرفيت لوړنې ورکشاپونه داير شوي دي.
- داحصايې اومعلوماتو عمومي مديريت له لوري د ۲۳۱ بابه نويو تاسيس شويو او د تېرو کلونو د پاتې ښوونځيو مختصات راټول شوي دي.
- دنتايجو اوشهادتنامو عمـــــــــومي مديريت له لوري ۸۰۰۰ بري ليکونه په ګروپي بڼه ترتيب، تدقيق، طی مراحل او وېشل شوي دي.
- د نتايجو او شهادتنامو عمومي مديريت له لوري ۸۰۰ د دولتي ښوونځيو د فارغانو د پايلو جدولونه، ۶۵ د خصوصي ښوونځيو د فارغانو د پايلو جدولونه او ۲۷ د سامع فارغانود پايلو جدولونه تدقيق، تطبيق او تاييد شوي دي.

#### سرچينې او اداره

- د غزني ولايت په کچه د مدرسو او ښوونځيو د جايدادونو لپاره ۴۵ د ملکيت سندونه جوړ شوي دي.
- د املاکو او ښوونځيو د ساتنې او پاملرنې عمومي مديريت له لوري ۹ ملکيتونو سندونه ثبت شوی دي. همدارنګه د ۷۹ ودانيو سجل او دهغوی فايلبندي تر شوې ده.

## د مقام رياست اړوند فعاليتونه

- د غزني ولايت د مرکز او ۱۸ ولسواليو په کچه په پښتو او دري ژبه د سواد زده کړې ۲۳۰۵ ټوکه درسي کتابونه ويشل شوي دي.
- د غزني ولايت په مرکز او ۱۸ ولسواليو کې ۱۰۹۷ ټوکه د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود درسي کتابونه ويشل شوي دي.

## انډوليز لاسرسي برخه

## ښوونه او روزنه

- د فزيک، کيميا، بيولوژي، رياضي او محيطي ساينس په برخو کې شته ۵ لابراتوارونه او ۱ کمپيوټر لب په اړينو وسايل سمبال شوي دي.
- د غزني ولايت د مرکز او ۱۸ ولسواليو د عمومي زده کړو په دولتي ښوونځيو کې ۳۲۸۹۵ تنه زده کوونکي چې د هغو له جملې څخه ۲۲۹۴۷ تنه نارينه او ۹۹۴۸ تنه ښځينه دي جذب شوي دي.
- داساسي اوثانوي زده کړو عمومي مديريت له لورې د ۳۲۱ تنو بهر څخه راستنيدونکو او ۲۵۱۰ تنه مجاهدينو د ټولګيو تثبيت تر سره شوي دي.
- د غزني ولايت په مرکز او ولسواليو کې ۳۲ بابه د چټکو زده کړو او ۱۷۵ بابه د سيمه ايزو زده کړو ټولګي ايجاد شوي دي.
- د غزني ولايت د مرکز او ولسواليو د سواد زده کړو په کورسونو کې ۹۰۵۳ تنه سواد زده کوونکي جذب شوي دي.

## اسلامي زده کړې

- د غزني ولايت په مرکز او ۱۸ ولسواليو کې ۱۵۹ بابه د اسلامي زده کړو رسمي بنسټونه نوي تاسيس شوي دي.
- ۴۳۱ تنه علماء ۱۲ ټولګي ته، ۵۵۱ تنه حافظان او ۷۷۳ تنه علماء ۱۴ ټولګي ته تثبيت شوي دي.
- د غزني ولايت د مرکز او ولسواليو د ۲۱۰ تنه مدرسينو ارزونه تر سره شوې ده.
- د غزني ولايت په مرکز او ۱۸ ولسواليو کې ۱۲۱ بابه د نارينه و مدرسې، ۴۷ بابه د ښځينه و مدرسې، ۱۲ بابه د نارينه و دارالحفاظونه او ۲ بابه د ښځينه و دارالحفاظونه ايجاد شوي دي.

## سرچينې او اداره

- د غزني ولايت په کچه ۳۰۷۰ تنه د ماينونو او چاوديدونکو موادو د خطرونو په هکله د چمتو شويو زده کړه ايزو برنامو څخه برخمن شوي دي.
- د املاکو ساتنې اوڅارنې عمومي مديريت له لورې د غصب شويو، نيول شويو او دعوايي جايدادونو د ۷ دوسيو تعقيب تر سره شوی دی.

## د مقام رياست اړوند فعاليتونه

- د مخابرې مديريت له لورې مراجعينو ته معلومات په ښه توګه وړاندې شوي دي. د مرکز څخه راغلي مکتوبونه او اسناد په خپل وخت اړوند شعبو او کسانو ته سپارل شوي او د غزني ولايت پوهنې رياست اړوند اسناد، مکتبونه او وړانديزونه مرکز ته استول شوي دي.

## ښوونه او روزنه

- د ښوونځیو د ۴۵ شوراګانو له کارونو او او د هغوی له آغیزمنتوب څخه څارنه تر سره شوې ده.
- د مرکز او ۱۸ ولسوالیو د ۲۴۵۹ بابه ښوونځیو، ۵۲۵ بابه د سیمه ایزو زده کړو ټولګیو او ۱۰۴ بابه د چټکو زده کړو ټولګیو څخه حمایوي څارنه تر سره شوې ده.
- د مسلکي پراختیا غړو له لوري د غزني ولایت د مرکز او ۱۸ ولسوالیو د ۳۰۸۰ تنه ښوونکو،۴۷۶ تنه سرښوونکو، ۴۵۹ تنه مدیرانو او ۱۲۰ تنه د سواد زده کړو ښوونکو مشاهده او کتنه تر سره شوې ده.
- ۱۸۰ تنه د سیمه ایزو زده کړو نارینه زده کوونکي او ۳۱۴ تنه ښځینه زده کوونکي او ۳۲۷ تنه د چټکو زده کړو نارینه زده کوونکي او ۹۴۶ تنه د چټکو زده کړو ښځینه زده کوونکي اړونده دولتي ښوونځیو ته لیږدول شوي دي.
- د غزني ولایت په ۸۴۱ بابه ښوونځیو کې د کولمو د چینجیو د له منځه وړلو ټولنیز کمپاین تر سره شوی او البندازول ټابلیټونو ویشل شوي دي چې له دې کمپاین څخه ۸۴۱ بابه ښوونځي او ۲۳۰۱۲۹ تنه زده کوونکي برخمن شوي دي.

## اسلامي زده کړې

- د ۴۵۰ تنه دولسم ټولګي ته د بریالیو علماوو او ۱۳۰۰ تنه څوارلسم ټولګي ته د بریالیو علماوو د سندونو ارزونه تر سره شوې ده.
- په غزني ولایت کې ۴۱۴ مشترکې ازموینې اخیستل شوي دي. همدارنګه ۲۵۷ قطعې د دولسم ټولګي شهادتنامې او ۷۴۰ قطعې د څوارلسم ټولګي شهادتنامې ویشل شوي دي.

## سرچینې او اداره

- د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې دبشري سرچینو عمومي مدیریت له لورې د راجستریشن په سیستم کې معلومات نوي شوي دي چې په نتیجه کې یې د یاد ولایت د مرکز او ولسوالیو په کچه ۲۸۳۸ خالي بستونه په ډاګه شوي دي.
- دبشري سرچینو عمومي مدیریت له لورې د ۱۶۵۰ خالي بستونو معلومات د استخدام ریاست سره شریک شوي دي.
- د مرکز او ۱۸ ولسوالیو د ۱۶۴۱ تنه ښوونکو قدم، د ٦۰ تنه ښوونکو بست او د ۱۰۷ تنه کارکوونکو بستونه لوړ شوي دي.
- د غزني ولایت په مرکز او ۱۸ ولسوالیو کې ۳۸۴ تنه کارکوونکي، ۲۲۸ تنه ښوونکي او ۱۵۴۶ تنه استادان نوي ګمارل شوي دي.

## د مقام ریاست اړوند فعالیتونه

- د غزني ولایت څخه د پوهنې وزارت محترم مقام ته ۱۴ دریم او څلورم بستونه پیشنهاد شوي چې تر ازموینو وروسته په اړونده بستونو کې مقرر شوي دي.
- د غزني ولایت پوهنې ریاست څخه مرکز ته ۲۹۴۰ سندونه او ۱۵۴ پیشنهادونه لیږل شوي دي.او د مرکز څخه غزني ولایت ته ۲۳۸۷ سندونه او ۳۴ قطعې فرمانونه، احکام او مصوبې رالیږل شوي دي.
- دپلان عمومي مدیریت له لورې ۱ ولایتي عملیاتي پلان او ۱۹ د ولسوالیو په کچه عملیاتي پلانونه جوړ شوي دي.
- د دعوت او ارشاد کارکوونکو له لورې د غزني ولایت پوهنې ریاست اړوند ۱۳۰۰ تنه کارکوونکو ته د مختصر نصاب تدریس تر سره شوی دی.

**دویمه برخه**

# د پوهنې د درې ګونو عرصو پر بنسټ د عملياتي پلان د کړنو پرمختګ

## لومړۍ برخه: کيفيت او تړاو

**ټولیزه موخه:** زده کوونکي به په ټولو کچو کې پوهه، مهارتونه، چلندونه او ارزښتونه چې د یو سالم، مسؤلیت منونکي، رشید، او تولیدونکي وګړي لپاره اړین دي ترلاسه کړي او هغوئ به د ټولنیزې هوساینې په بهیر کې د آغېزمنې ونډې اخیستنې او ګډون لپاره چمتو او په کورنیو او نړیوالو بازارونو کې به د خوندي او دوامداره دندې لپاره سمبال شي.

### ۱. پروګرام: ښوونه او روزنه

**۱،۱ فعالیت: د عمومي زده کړو، اسلامي زده کړو او سواد زده کړې د اړتیاوو د ارزونې موندنو پر بنسټ د ښوونیزو موادو پراختیا(٦٥)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې د غزني ولایت په مرکز او ۱۸ ولسوالیو کې دمسلکي پراختیایي غړیو له لوري د ۳٦۳ بابه سواد زدکړې کورسونو څخه څارنه تر سره شوې ده. چې د یادې څارنې په تر خ کې د نوموړو کورسونو اړتیاوې معلومې شوي دي.

**۱،۲ فعالیت: دغزني ولایت په کچه د علمي غړو (مربیانو) ظرفیت لوړل(۱۵۷)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې د ولایتي ټیم له لوري دولسوالیوپه کچه ۱۳۱ تنه علمي غړي روزل شوي دي.

**۱،۳ فعالیت: د علمي افکارو، مسؤلیت منلو او ښه چلند په برخه کې په مرکز او ولایتونو کې د ښوونکو، مدیرانو او د ښوونځیو د اداري شوراګانو او علمي غړو لپاره د ظرفیت لوړولو د پروګرامونو ترتیبول(۱۵۷)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې ۲۷۵ تنه علمي غړي د علمي افکارو، مسؤلیت منلو او ښه چلند په برخه کې د چمتو شویو زده کړه ایزو پروګرامونو څخه برخمن شوي دي.

**۱،۴ فعالیت: کارکوونکو ته د جواز ورکولو د سیستم د پلي کیدو په موخه لازم چمتوالی(۱۵۷)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې د مرکز څخه ټیم د جواز ورکولو د سیستم د معرفي کولو په موخه نه دی راغلی.

**۱،۵ فعالیت: د لابراتوارنو د اړتیاوو معلوملولپاره سروې او په غزني ولایت کې د ترسره شوو پروګرامونو حمایوي څارنه(۱)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې دساینس مرکز مدیریت له لوري د غزني ولایت د مرکز او ۱۸ ولسوالیو د لابراتونونو څخه ۳ ځله څارنه تر سره شوې ده. چې د یادې څارنې په ترڅ کې د نوموړو لابراتوارونو اړتیاوې معلومې او د حل په موخه د اړونده مسؤلینو سره شریکې شوي دي.

**۱،٦ فعالیت: د لابراتوارونو او کمپیوټرونو اغیزمنتوب او کارولو څخه څارنه او لیدنه(۱)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې د ساینس مرکز عمومي مدیریت له لوري د غزني ولایت د لابراتوارونو او کمپیوټر لېبونو د کارونې او اغیزمنتوب څخه ۳ ځله څارنه تر سره شوې ده.

**۱،۷ فعالیت: د ساینس ولایتي مدیریتونو علمي غړو او لابرانت لپاره د ساینس، ریاضي او کمپیوټر برخه کې د روزنیزو پروګرامونو تنظیمول(۱۰۹)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې دساینس مرکز عمومي مدیریت له لوري ۲۵۱ تنه لابرانت ښوونکو ته د ساینس، ریاضي او کمپیوټر په برخه کې روزنیز پروګرامونه تنظیم شوي دي.

**۱،۸ فعالیت: د پوښتنې لاندې ښوونځیو ښوونکو لپاره د اشارې ژبې او بریل برخه کې د روزنیزو ورکشاپ دایرول(۵۳)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې د بودجې د نه شتون له امله د اشارې ژبې او بریل برخه کې ښوونکو ته رونیز پروګرامونه نه دي چمتو شوي.

**۱,۹ فعالیت: د معلولیت لرونکو ماشومانو د حقونو په اړه د زده کونکو، ښوونکو او د ښوونځیو د اداري غړو د ظرفیت لوړول(۷۴۳)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې ۱۶۸ تنه زده کوونکي، ۱۸۷ تنه ښوونکي او ۵٦ تنه اداري غړي د معلولیت لرونکو ماشومانو د حقونو په اړه د چمتو شویو زده کړه ایزو پروګرامونو څخه برخمن شوي دي.

**۱,۱۰ فعالیت: مسلکي غړو له خوا دغزني ولایت کې د ریاست د تخنیکي غړو لخوا د واش (WASH) Dewormin) په برخه کې د څارونده د تروپ ګروپونو او بدني روزني ښوونکو لپاره د سیمینارونو او ورکشاپونو دایرول(۱)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې ۳۱ تنه د بدني روزني ښوونکي او ۵ تنه د اصول صنفي ښوونکي دبدني روزني او څارندوی په برخه کې د چمتو شویو پروګرامونو څخه برخمن شوي دي. همدارنګه ۹۲ تنه مدیران او آمرین او ۲٦۹ تنه ښوونکي او زده کوونکي د روغیتا په برخه کې د چمتو شویو زده کړه ایزو پروګرامونو څخه برخمن شوي دي.

**۱,۱۱ فعالیت: د ځاني ارزونې له مخې د قابلیتونو د ارزونې په برخه کې د ولایتونو او کابل ښار په ګډون د لازم ظرفیت رامنځته کول او د سواد زده کړې د پروګرامونو د کیفیت د ښه والي لپاره د لازمو لارښوونو ترتیبول او ملي کول(۱)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې د مرکز څخه تیم نه دی راغلی. خو د سواد زده کړو عمومي مدیریت له لورې د غزني ولایت په مرکز او ۱۸ ولسوالیو کې د سواد زده کړو لازم ظرفیت رامنځ ته شوې او په دې برخه کې اړینې لارښوونې ترتیب شوي دي.

**۱,۱۲ فعالیت: د مرکز په کچه د سواد زده کړو د پروګرامونو د ښه تطبیق په موخه، د ترتیب شویو لایحو، طرزالعملونو او لارښودونو د معرفي په هکله د روزنیز ورکشاپ په لاره اچول(۲)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې د مرکز څخه تیم نه دی راغلی. خو د د سواد زده کړو عمومي مدیریت له لورې ۲ تنو ته د سواد زده کړو د پروګرامونو د ښه تطبیق په موخه، د ترتیب شویو لایحو، طرزالعملونو او لارښودونو د معرفي په هکله روزنه ورکول شوې ده.

**۱,۱۳ فعالیت: د سواد زده کړې پروګرام د پلي کولو لپاره د سرچینو تشخیص او ترلاسه کول، د دولتي، غیر دولتي بنسټونو او رضاکارانو ملاتړ ترلاسه کول(۱۹)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې د سواد زده کړې عمومي مدیریت له لورې ۱۷ تنه د سواد زده کړې پروګرام د پلي کولو لپاره تشخیص او جلب شوی دي. همدارنګه ۱۲۰۰۰ افغانی بودجه هم تر لاسه شوې ده.

**۱,۱۴ فعالیت: د سیمه ییزو خلکو (رضا کارانو) له لارې د غزني ولایت په کچه دد کلیو د سواد زده کړې کمپټو د غونډو جوړول(۹۰)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې د سیمه ایزو خلکو له لورې د غزني ولایت په مرکز او ۱۸ ولسوالیو کې ۱۵۰ د سواد کمیټو غونډې تر سره شوي دي.

**۱,۱۵ فعالیت: د خصوصي ښوونځیو د قانوني اسنادو د تطبیق څارنه او د جواز ورکولو پروسې اسانتیا او چټکتیاهمدارنګه، د شرایطو تحلیل او په هغو ولایتونو کې چې له لسو څخه کم خصوصي ښوونځي شتون لري، د پوهنې په برخه کې د خصوصي سکتور د مشارکت لپاره د زمینې برابرول(۱)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې د خصوصي ښوونځیو د قانوني اسنادو د تطبیق څخه د څارنې په موخه د مرکز څخه تیم نه دی راغلی.

**۱,۱٦ فعالیت: د خصوصي ښوونځیو د حق الشمول او حق الاجرت (فیس) د درجې او اندازې ټاکلو تثبیتول(۲۰)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې د پوهنې ریاست له لوري د خصوصي ښوونځیو د حق الشمول او حق الاجرت (فیس) د درجې او اندازې ټاکلو په موخه د ۱۰ بابه ښوونځیو اسناد د خصوصي ښوونځیو ادارو ته د زده کوونکو څخه د لږ فیس اخیستلو په موخه لیږل شوي دي.

## ۲. اسلامي زده کړې

### ۲،۱ فعالیت: دارالعلوم ته د مدرسو لوړول (۱)

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې د اسلامي زده کړو آمریت اړوند هیڅ مدرسې د قانوني معیار د نه پوره کولو له امله دارالعلوم ته ارتقاء نه ده کړې.

### ۲،۲ فعالیت: د طالب العلمانو او زده کړیالانو ترمنځ د علمي سیالیو په لاره اچول (۵۰۰)

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې داسلامي زده کړوآمریت له لورید غزني ولایت په کچه د ۵۶۱ تنه طالب العلمانو او زده کړیالانو ترمنځ علمي سیالۍ په لاره اچول شوي دي.

### ۲،۳ فعالیت: د دارالعلومونو د اداري او تدریسي چارو د بیا کتنې او ارتیاؤ معلوملو په موخه د علمي او تدریسي غړو لیږل (۵۷)

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې د غزني ولایت په کچه د ٦ باب دارالعلوم څخه کتنه تر سره شوې ده چې د یادې کتنې په ترڅ کې د ۱۳ په شمیر اړتیاوې یې معلومې شوې دي.

### ۲،۴ فعالیت: په غزني ولایت کې د نویو مقرر شویو کارکوونکو د ظرفیت لوړولو په موخه د لارښوونې سیمینارونو دایرول (۱)

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې دمرکز او ولسوالیو په کچه نویو مقرر شویو کارکوونکو ته ۱سیمینار دایر شوی دی.

### ۲،۵ فعالیت: په غزني ولایت کې د اسلامي زده کړو اړوند مدرسو او دارالحفاظونو د اداري او تدریسي کارونو د بیاکتنې او اړتیاؤ معلوملو په موخه د علمي او تدریسي غړو ورلیږل (۵۷)

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې د غزني ولایت د مرکز او ۱۸ ولسوالیو د ۴۹۰ بابه مدرسو څخه کتنه تر سره شوې ده. چې د یادې کتنې په ترڅ کې د نوموړو مدرسو ۷۲ اړتیاوې معلومې شوې دي.

### ۲،٦ فعالیت: په شته ډیټابیس کې د علماء کرامو د ازموینو ثبتول (۵۱۴)

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې دپوهنې وزارت له لوري تر ارزونې وروسته د علماو د ۸۰۰ تنو لیست د غزني ولایت پوهنې ریاست ته رالیږل شوی دی.

### ۲،۷ فعالیت: په غزني ولایت کې د مدرسو او دارالحفاظونو استادانو ته د نویو درسي کتابونو د وروپیژندلو په موخه د ورکشاپ دایرول (۳۴)

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې د اسلامي زده کړو آمریت له لوري ٦۰ تنو ښوونکو ته د نویو درسي کتابونو د ور پیژندلو په په موخه ۱ ورکشاپ دایر شوی دی.

### ۲،۸ فعالیت: د مدرسو فارغین په عالیه او عالمیه ازموینو کې ثبتول (۵۷)

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې د اسلامي زده کړو آمریت له لورې ۵۱۱ تنه د مدرسو فارغان په عالیه او عالمیه ازموینو کې ثبت شوي دي.

### ۳. د کیفیت تضمین

**۳,۱ فعالیت: د ولایتونو او ولسوالیو په کچه د کیفیت لرونکو احصاییوي ارقامو راټولولو په موخه د ظرفیت لوړونې ورکشاپونو په لاره اچول(۳۳)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې د احصایې او معلوماتو عمومي مدیریت له لورې د کیفیت لرونکي احصایوي ارقامو د راټولولو په موخه ۴۸ د ظرفیت لوړنې ورکشاپونه دایر شوي.

**۳,۲ فعالیت: د هېواد په کچه د ۱۴۰۲ هـ ش کال احصاییوِي ارقامو 10% کتنه او تصدیق(۱)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې داحصایې اومعلوماتو عمومي مدیریت له لورې د احصایېوِي ارقامود کارونو د ۱ راپور کتنه او تصدیق تر سره شوی دی.

**۳,۳ فعالیت: د ډیتاسیټونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایې او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بڼه د ۱۴۰۲ هـ ش کال د احصایي ترتیبول او د نشراتو ریاست ته استول(۱)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې داحصایې اومعلوماتو عمومي مدیریت له لورې ۱ ولایتي پروفایل، د احصایې او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بڼه ترتیب او د نشراتو ریاست ته استول شوی دی.

**۳,۴ فعالیت: د ډیتاسیټونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایې او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بڼه د ۱۴۰3 هـ ش کال د احصایي ترتیبول او د نشراتو ریاست ته استول(۱)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې داحصایې اومعلوماتو عمومي مدیریت له لورې د ډیتاسیټونو، ولایتي پروفایلونو، د احصایې او معلوماتو تحلیلي کتابونو او پوهنې اطلس په بڼه د ۱۴۰۳ هـ ش کال ۱ پروپایل د نشراتو ریاست ته استول شوی دی.

**۳,۵ فعالیت: د نویو تاسیس شویو او د تېرو کلونو د پاتې ښوونځیو د مختصاتو راټولول(۶۰۰)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې داحصایې اومعلوماتو عمومي مدیریت له لورې د ۲۳۱ بابه نویو تاسیس شویو او د تېرو کلونو د پاتې ښوونځیو مختصات راټول شوي دي.

**۳,۶ فعالیت: د بري لیکونو/شهادتنامو ترتیب، تدقیق، طی مراحل او وېشل(۴۰۰۰)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې دنتایجو اوشهادتنامو عمـــــــــومي مدیریت له لورې د ۸۰۰۰ په شمیر بري لیکونه په گروپي بڼه ترتیب، تدقیق، طی مراحل او وېشل شوي دي.

**۳,۷ فعالیت: د غزني ولایت ته د سپینو بري لیکونو/شهادتنامو وېشل(۸۰۰۰)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې د نتایجو او شهادتنامو مدیریت له لورې د۸۰۲۰ په شمیر سپینې شهادتنامې ویشل شوي دي.

**۳,۸ فعالیت: د دولسم او څوارلسم ټولگیو د فارغانو د نتایجو جدولونو تدقیق، تطبیق او تاییدول(۱۷۷)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې د نتایجو او شهادتنامو عمومي مدیریت له لورې ۸۰۰ د دولتي ښوونځیو د فارغانو د پایلو جدولونه، ۶۷ د خصوصي ښوونځیو د فارغانو د پایلو جدولونه او۲۷ د سامع فارغانود پایلو جدولونه تدقیق، تطبیق او تایید شوي دي.

**۳,۹ فعالیت: د څارنې، ارزونې او راپور ورکولو په برخه کې فردي او نهادي ظرفیت لوړونه(۱۴)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې د مرکزي ټیم له لورې د غزني ولایت پوهنې ریاست ۲۴ تنه کارکوونکو ته د راپور ورکولو په برخه کې ۴ ورځنۍ ورکشاپ دایر شوی دی.

**۳,۱۰ فعالیت: د غزني ولایت پوهنې ریاست د فعالیتونو او پلانونو له تطبیق څخه ربعواره څارنه(۱)**

د۱۴۰۳مالي کال په جريان کې د څارنې او ارزونې مرکزي ټیم له لورې د غزني ولايت پوهنې رياست د فعالیتونو او پلانونو د تطبیق څخه څارنه تر سره شوې ده. همدارنګه دڅارنې او ارزونې عمومي مدیریت له لورې د پوهنې رياست اړوند دمرکز او۱۸ ولسوالیو دپوهنې آمریتونو د فعالیتونو او پلانونو له تطبیق څخه ربعواره څارنه ترسره شوې ده.

**۳,۱۱ فعالیت: د غزني ولایت پوهنې ریاست اړوند د پوهنې وزارت د همکارو مؤسسو له پروژو څخه څارنه(۱)**

د۱۴۰۳مالي کال په جريان کې د څارنې او ارزونې مرکزي ټیم له لورې د پوهنې وزارت د همکارو مؤسسوله پروژو څخه څارنه تر سره شوې ده. همدارنګه دڅارنې او ارزونې عمومي مدیریت له لورې د پوهنې وزارت سره د همکارو مؤسسو له ۴ پروژو څخه څارنه تر سره شوې ده.

**۳,۱۲ فعالیت: د عملیاتي پلان له تطبیق څخه د څارنې او ارزونې په موخه د راپور ورکولو سیستم استفاده کول(۱)**

د۱۴۰۳مالي کال په جريان کې د غزني ولایت په کچه د راپور ورکولو سیستم څخه استفاده تر سره شوی ده چې د پوهنې ریاست اړوند برنامو او پوهنې آمریتونوڅخه ۷۸ راپورونه راټول شوي دي.

**۳,۱۳ فعالیت: د عملیاتي پلان د راپور ورکولو آنلاین سیستم پراختیا او تطبیق(۱)**

د۱۴۰۳مالي کال په جريان کې په غزني ولایت کې د راپور ورکولو ۱ آنلاین سیستم فعال شوی دی. چې د نوموړي سیستم په فعالیدو سره د راپور ورکولو په برخه کې ډیره اسانتیا رامنځ ته شوې ده.

**۳,۱۴ فعالیت: د چمتو شوي فارمټ سره سم، د غزني ولایت په کچه د پلانونو د پرمختګ او لاسته راوړنو ربعوار راپورونو راټولول(۴)**

د۱۴۰۳مالي کال په جريان کې د تضمین کیفیت آمریت څارنې اوارزونې عمومي مدیریت له لورې د عملیاتي پلان د پرمختګ او لاسته راوړنو ۴ ربعوار راپورونه راټول او د تحلیل او توحید وروسته مرکز ته استول شوي دي.

**۳,۱۵ فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د تقنیني اسنادو او پالیسو د تطبیق د وړتیا ارزونه او تجربوي تطبیق(۱۰۰٪)**

د۱۴۰۳مالي کال په جريان کې د مرکز څخه کوم ټیم د تقنیني اسنادو او پالیسو د تطبیق په موخه غزني ولایت ته سفر نه دی تر سره کړی.

**۳,۱۶ فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د تقنیني سندونو او پالیسو په برخو کې د کارکوونکو روزل او ظرفیت لوړونه(۱۰۰٪)**

د۱۴۰۳مالي کال په جريان کې د مرکز څخه کوم ټیم د تقنیني سندونو او پالیسو په برخو کې د کارکوونکو د روزلو او ظرفیت لوړولو په موخه غزني ولایت ته سفر نه دی کړی.

## ۴. سرچینې او اداره

**۴,۱ فعالیت: د غزني په ولایت کې د ښوونکو صندوق رامنځ ته کول(۱)**

د۱۴۰۳مالي کال په جريان کې د مالي اوحسابداري عمومي مدیریت له لورې په غزني ولایت کې دراجستریشن مدیریت لپاره د یوزر اکسیس سیستم له فعاله کیدلو سره د۱ ښوونکو صندوق رامنځ شوی دی.

**۴,۲ فعالیت: د پوهنې وزارت د داخلي عوایدو په راټولولو کې زیات والی(۱)**

د۱۴۰۳مالي کال په جريان کې د مالي اوحسابداري عمـــــــومي مدیریت له لورې د غزني ولایت پوهنې ریاست داخلي عواید په ښه توګه راټول شوي دي. چې په نتیجه کې د پوهنې ریاست په داخلي عوایدو کې زیات والی راغلی دی.

**۴,۳ فعالیت: د مرکز او ولایتونو په کچه د مالي چارو په برخه کې د کارکوونکو د ظرفیت لوړول(۱۵)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان  کې د مالي اوحسابداري عمومي مدیریت له لورې کارکوونکو ته د مالي چارو په برخه کې ۴٦ زده کړه ایزې برنامې په لاره اچول شوي دي.

**۴,۴ فعالیت: د پوهنې وزارت د اداري کارکوونکو له پاره د ظرفیت لوړولو د استراتیژۍ طرحې جوړول(۱۰۰٪)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان  کې  په دې هکله کومه طرحه د مرکز  څخه نه ده رالیږل شوې.

**۴,۵ فعالیت: د غزني ولایت په کچه د کارکوونکو د سوانحو  دفترونو تدقیق، تصحیح، تطبیق او برېښنايي کول(۱۰۰٪)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان  کې د سوانحو د دفترونو د تدقیق، تطبیق او بریښنايي کولو سیستم په یاد ولایت کې نه دی فعال شوی.

**۴,٦ فعالیت: د غزني ولایت په کچه د مدرسو او ښوونځیو د جایدادونو له پاره د ملکیت سندونو جوړول(۲۰)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان  کې داملاکو ساتنې اوڅارنې عمـــــومي مدیریت له لورې د غزني  ولایت په کچه د مدرسو او ښوونځیو د جایدادونو لپاره۴۵ د ملکیت سندونه جوړ شوي دي.

**۴,۷ فعالیت: د غزني ولایت په کچه د اداري ځایونو او روزنیزو مرکزونو د ودانیو، ترمیمولو او احاطو سجل کول(۱۹)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان  کې د املاکو ساتنې اوڅارنې عمـــــومي مدیریت له لورې ۴۵  ودانۍ او د روزنیزو مرکزونو ۹ احاطوي دیوالونه سجل شوي دي.

**۴,۸ فعالیت: د املاکو په دفترونو او معلوماتي سیستم کې د ملکیتونو د سندونو  او سجلو ثبتول او د هغو فایلبندي(۳۹)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان  کې داملاکو ساتنې اوڅارنې عمـــــومي مدیریت له لورې د ۲۰ ملکیتونو سندونه ثبت شوی دي. همدارنګه د ۷۹ ودانیو سجل او دهغوی فایلبندي تر شوې ده.

**۴,۹ فعالیت: د هغو سپینو او امارتي ځمکو تثبیتول چې په هغو باندې پخوا د ښوونځیو او مدرسو ودانۍ جوړې شوي او تر اوسه پورې دې وزارت ته دي انتقال شوي(۸۰ جریبه)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان  کې داملاکو ساتنې اوڅارنې عمومي مدیریت له لورې ۱۰۸۲ جریبه  سپینه ځمکه  او د ښوونځیو او مدرسو ۸۱ ودانۍ تثبیت او د پوهنې ریاست ته انتقال شوې دي.

## ۵. د پوهنې ریاست اړوند فعالیتونه (نشرات، تفتیش، مخابره، پلان او نور)

**۵,۱ فعالیت: د امیرالمؤمنین د فرمانونو او د ریاست الوزرا ، وزیرانو شورا  او پوهنې وزارت مشرتابه له حکمونو او لارښوونو څخه د ډاډ تر لاسه کولو په موخه سفر تر سره کول(۱)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان  کې د مرکز څخه ۱ ټیم د غزنی ولایت پوهنې ریاست  ته د امیرالمؤمنین د فرمانونو او د ریاست الوزرا ، وزیرانو شورا  او پوهنې وزارت مشرتابه له حکمونو او لارښوونو څخه د ډاډ تر لاسه کولو په موخه سفر تر سره کړی.

**۵,۲ فعالیت: د عامه پوهاوي او چاپي خپرونو چاپ او ویش(۳٦۲۵)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان  کې غزني ولایت ته ۲۰۵ د عرفان ،۹۳ دبخوان و بیندیش مجلې او ۷۳۰ د پوهنې اوونیزې د مرکز څخه راستول شوي دي چې اړونده ځانګو ته تکثیر شوي دي.

**۵,۳ فعالیت: د پوهنې د یوکلنې کړنې په هکله د کتابونو چاپ(۴۵)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان  کې  د مرکز څخه  د پوهنې د یو کلنې کړنې کتاب نه دی رالیرل شوی.

**۵,۴ فعالیت: د ولایتونو، ولسوالیو او ښوونځیو په کچه د درسي کتابونو د ویشلو له پروسې څخه تخنیکي کتنه(۱)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان  کې د مرکز څخه کوم ټیم د درسي کتابونو له پروسې څخه د تخنیکي کتنې په موخه نه دی راغلی.

**۵,۵ فعالیت: د غزني ولایت په کچه په پښتو او دري ژبه د سواد زده کړې د ۱۰۸۵۰ ټوکه درسي کتابونو چاپ او ویش**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې د نشراتو اوعامه اړیکو مدیریت له لورې د غزني ولایت د مرکز او ۱۸ ولسوالیو په کچه په پښتو او دري ژبه د سواد زده کړې ۲۹۰۵ ټوکه درسي کتابونه ویشل شوي دي.

**۵,۶ فعالیت: د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود د ۱۶۶۰ ټوکه درسي کتابونو ویش**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې دنشراتو او عامه اړیکو مدیریت له لورې د غزني ولایت په مرکز او ۱۸ ولسوالیو کې ۱۰۹۷ ټوکه د بدني روزنې د ښوونکو د لارښود درسي کتابونه ویشل شوي دي.

**۵,۷ فعالیت: په مرکز کې د استهلاک شویو کتابونو د لیلام چارو تعقیبول او د ولایتونو د نشراتو مدیرانو له لورې د کارونو د پراوونو بشپړول(۱)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې د لیلام وړ کتابونو نشتون له امله استهلاک شویو کتابونو لیلام نه دی تر سره شوی.

**۵,۸ فعالیت: د پلټنې په برخه کې د ولایتي او مرکزي کارکوونکو لپاره د روزنیزو پروګرامونو په لاره اچول(۴)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې د مرکز پلټنې ریاست څخه کوم ټیم غزني ولایت ته د کارکوونکو د روزلو په موخه نه دی راغلی.

**۵,۹ فعالیت: د اړونده پروګرامونو د رسولو په موخه ولایتونو ته د دعوت او ارشاد ریاست د کارکوونکو سفر کول(۲)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې د مرکز څخه د دعوت او ارشاد ریاست کارکوونکو د غزني ولایت ته ٦سفرونه تر سره کړي دي.

## دویمه برخه: انډولیز لاسرسی

**تــولیزه موخــه:** پــه هېــواد کــې د ماشــومانو، ځوانــانو او لویــانو، نجونــو او ښــځو لپــاره کیفیــت لرونکــي او خونــدي زده کړو فرصتونو ته د انډولیز او ټول ګډونه لاس رسي زیاتوالی.

### ۱. ښوونه او روزنه

**۱,۱ فعالیت: د غزني ولایت په کچه د ښوونکو د مسلکي پراختیا په موخه د اړونده پروګرامونو د تطبیق له څرنګوالي څخه څارنه(۱)**

د۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د نوموړو پروګرامونو د تطبیق له څرنګوالي څخه د څارنې په موخه له مرکز څخه ټیم نه دی راغلی.

**۱,۲ فعالیت: د غزني ولایت په کچه د تړل شویو ښوونځیو د بیا پرانستلو او برخلیک ټاکلو په اړه لازم اقدامات(0)**

د۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د غزني ولایت په د تشکیل د نشتون له امله کوم تړل شوی ښوونځی بیا نه دی پرانیستل شوی.

**۱,۳ فعالیت: د فزیک، کیمیا، بیولوژي، ریاضي او محیطي ساینس په برخو کې د شته کمپیوټر لبو او لابراتوارونو تجهیزول او رامنځته کول(۴)**

د۱۴۰۳ مالي کال په جریان کې د ساینس مرکز عمومي مدیریت له لورې د فزیک، کیمیا، بیولوژي، ریاضي او محیطي ساینس په برخو کې شته ۵ لابراتوارونه او۱ کمپیوټر لب په اړینو وسایلو سمبال شوي دي.

**۱,۴ فعالیت: په دولتي ښوونځیو کې د غزني ولایت په کچه د ۳۰۲۴۹ جدیدالشمول زده کوونکو جذبول**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې د غزني ولایت د مرکز او ۱۸ ولسوالیو په دولتي ښوونځیو کې ۳۲۸۹۵ تنه زده کوونکي چې د هغو له جملې څخه ۲۲۹۴۷ تنه نارینه او ۹۹۴۸ تنه ښځینه دي جذب شوي دي. چې په دې جذب سره د عمومي زده کړو برنامې اړوند د زده کوونکو ټولټال شمیر ۴۳۰۱۴۶ تنو ته رسیږي چې ۱۶۲۱۴۲ تنه یې ښځینه دي.

**۱,۵ فعالیت: د غزني ولایت په کچه د ۷ بابه نویو ښوونځیو تأسیس**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې تشکیل د کمښت له امله د غزني ولایت په کچه نوي ښوونځي تاسیس شوي نه دي.

**۱,٦ فعالیت: په غزني ولایت کې د اړوندو ادارو سره د پخوانۍ همغږۍ پر بنسټ د منځني دورې ښوونځیو لېسې ښوونځیو ته او د لومړنیو ښوونځو منځنیوښوونځیو ته لوړول؛(۱۲)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې د قانوني معیار د نه پوره کولو له امله هیڅ کوم دولتي ښوونځي ارتقا نه ده کړې.

**۱,۷ فعالیت: جلا کول، د نوم بدلول، ادغام، د جنسیت بدلون، د اقلیم بدلون او په غزني ولایت کې له یوه ځای څخه بل ځای ته د ښوونځیو انتقال(۸)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې د سواد زده کړو عمومي مدیریت له لورې ۱ باب د تجمع خورد سالان په نوم ښوونځی له جاغوري ولسوالی څخه رسنه ګیلان ولسوالی ته انتقال شوی دی. همدارنګه په مرکز کې دراهیان سعادت نمبر۳ ښوونځي نوم تغیر شوی دی.

**۱,۸ فعالیت: د مرکزي او ولایتي ریاستونو او اړوندو ادارو سره د ښوونځیو جوړولو د پروژو (د احاطې دیوال، احاطې او د پاکو اوبو څاه ګانو) په برخو کې همغږي(۲)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې د غزني ولایت په کچه د ۴ ساختماني پرژو په برخه کې همغږي تر سره شوې ده.

**۱,۹ فعالیت: د ځانګړو اړتیاو لرونکو ماشومانو لپاره د ښوونیزو مرکزونو رامنځته کول(۱۲)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې د بودجې د نه شتون له امله د ځانګړو اړتیاو لرونکو ماشومانو لپاره هیڅ ښوونیزو مرکز نه دی رامنځته شوی.

**۱,۱۰ فعالیت: له بهر څخه راستانه شویو او مجاهدینو د اړتیاوو او غوښتنو سره سم د ټولګیو تثبیتول(۷۰۰)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې داساسي اوثانوي زده کړو عمومي مدیریت له لورې ۳۲۱ تنو راستنیدونکو او ۲۵۱۰ تنه مجاهدینو د ټولګیو تثبیت تر سره شوی دی.

**۱,۱۱ فعالیت: د مرستندویه موسسو په همکارۍ د هیواد په ټولو ولایتونو کې د سیمه اییزو او چټکو زده کړو ټولګیو جوړول(۲۱۸)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې د غزني ولایت په کچه ۳۲ بابه د چټکو زده کړو ټولګي او ۱۷۵ بابه د سیمه ایزو زده کړو ټولګي ایجاد شوي دي. چې د نوموړو ټولګیو په ایجاد سره زده کړو ته لاسرسی ډیر شوی دی.

**۱,۱۲ فعالیت: د څارندوي ټیمونو، ترافیک او اور وژنې ټیمونو رامنځته کول او فعالول(۴)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې د اساسي او ثانوي زده کړو عمومي مدیریت له لورې د غزني ولایت په کچه ۴ د ترافیک او اطفایې ټیمونه او ۱۲۱ د څارندوی ټیمونه نوي ایجاد شوي دي.

**۱,۱۳ فعالیت: د سواد د اهمیت په اړه د عامه پوهاوي د لوړولو په موخه د پروګرامونو تنظیمول(۱۵۸)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې **د** جوماتونو او تکیه خانو له لارې د عامه پوهاوي ۳۳۱ پروګرامونه، د بروشورونو او اعلاناتو د چاپ او خپرولو له لارې د عامه پوهاوي ۹ پروګرامونه تنظیم شوي دي. همدارنګه د سواد نړیوالې ورځې په مناسبت ۳ محفلونه تنظیم شوي دي.

**۱,۱۴ فعالیت: د سیمه اییزو زده کړو، له ښوونځي څخه پاتې ماشومانو په مرکزونو او حرفوي او حیاتي زده کړو په ښوونځیو کې د اړمنو او زده کړې څخه بې برخې خلکو له پاره د سواد، حرفوي، شغلي، سواد حیاتي او ژوند مهارتونو د زمینې برابرول(۵۴۴)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان  کې د غزني ولایت په مرکز او ولسوالیو کې ۱۸۲۵ تنو د سیمه ایيزو زده کړو، له ښوونځي څخه پاتې ماشومانو ته د سواد حیاتي په کورسونو کې د زده کړو زمینه برابره شوې ده.

### ۱,۱۵ فعالیت: راستنیدونکو او داخلي بې ځایه شویو لپاره چې د زده کړې څخه بې برخې پاتې د سواد زده کړو د زمینې برابرول(۱۰۰)

د۱۴۰۳مالي کال په جریان  کې د غزني ولایت په کچه ۲۳۵ تنه د سواد څخه بې برخې  راستنیدونکو لپاره د سواد زده کړې زمینه برابره شوې ده.

### ۱,۱۶ فعالیت: د سواد زده کړې په کورسونو کې د نالوستو کسانو جذبول(۹۹۵۰)

د۱۴۰۳مالي کال په جریان  کې د غزني ولایت د مرکز او ۱۸ ولسوالیو د سواد زده کړو په کورسونو کې ۹۰۵۳ تنه سواد زده کوونکي نوی جذب شوي دي.

### ۱,۱۷ فعالیت: د ملا امامانو او کوچیانو د پروگرام له لارې  د سواد زده کړې په کورسونو کې د نالوستو کسانو جذبول(۸۰۰)

د۱۴۰۳مالي کال په جریان  کې د غزني ولایت په کچه د ملا امانو د سواد زده کړو په کورسونو کې ۲۵ تنه سواد زده کوونکي او ۲۰تنه دکوچیانو زده کوونکي جذب شوي دي.

### ۱,۱۸ فعالیت: د غزني ولایت په کچه د سواد زده کړې کورسونو رامنځته کول(۴۳۴)

د۱۴۰۳مالي کال په جریان  کې د غزني ولایت په مرکز او ۱۸ ولسوالیو کې ۴۸۰ بابه د سواد زده کړې ټولګي او ۱۱ بابه کورسونه په مسجدونوکی ایجاد شوي دي چې د نومړو کورسونو په ایجاد سره په یادو سیمو کې د سواد کچه لوړه شوې ده.

### ۱,۱۹ فعالیت: دخصوصي ښوونیزو موسسو اوکورسونو ملاتړ او اعتبار ورکول(۶۱)

د۱۴۰۳مالي کال په جریان  کې د غزني ولایت په کچه ۱۲ بابه خصوصي ښونځي او ۲۸ بابه کورسونه نوي تاسیس شوي دي. د ۱۲ بابه خصوصي ښوونځیو او ۱۳ بابه ښوونیزو کورسونو جوازونه نوي شوي دي.همدارنګه ۱ منځنی ښوونځی لېسې ته او ۵ بابه لومړني خصوصي ښوونځي منځنیو ښوونځیو ته لوړ شوي دي.

### ۱,۲۰ فعالیت: د خصوصي ښوونځیو زده کوونکو دري کلنو نمرو ته اعتبار ورکول ترڅو په بهر کې خپلو زده کړو ته دوام ورکړي(۱۸)

د۱۴۰۳مالي کال په جریان  کې د مراجعینو د نه مراجعې له امله په دې برخه کې پرمختګ نه دی تر سره شوی.

### ۱,۲۱ فعالیت: په خصوصي ښوونځیو او کورسونو کې د هغو زده کونکو لپاره چې د مالي اړخه کمزوي وي د زده کړو د زمینې برابرول(۴)

د۱۴۰۳مالي کال په جریان  کې د پوهنې رئیس له لورې ۲۲ تنه خصوصي ښوونځیو او ۵۲ تنه د مالي اړخه کمزوري زده کوونکي کورسونو ته معرفي شوي دي.

## ۲. اسلامي زده کړې

### ۲,۱ فعالیت: د اسلامي زده  کړو د رسمي بنسټونو تاسیس، د نوم او بنې بدلون، ارتقاء، تمدید او د بستونو ویش(۳۱۱)

د۱۴۰۳مالي کال په جریان  کې  د غزني ولایت په مرکز، قره باغ، اندړ، مقر، ناوه، واغظ، ده یک، خوګیاني او ناهور ولسوالیو کې ۱۵۹ بابه د اسلامي زده کړو رسمي بنسټونه نوي تاسیس شوي اوپه قره لاغ ولسوالي کې ۱باب اشرف العلوم مدرسي نوعیت دارالحفاظ ته بدلون کړی دی.

**۲,۲ فعالیت: د اسلامي زده کړو له تاسیس، د نوم بدلون، ارتقاء، تمدید او د خصوصي مرکزونو د جواز د بنې د بدلون څخه کتنه او کنټرول(0)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې د غزني ولایت په مرکز او مقر ولسوالی کې ۵ بابه د اسلامي زده کړو مرکزونو ته جوازونه ورکړل شوي دي، د ٦ بابه خصوصي مرکزونو جوازونه نوي شوي دي او همدارنګه د مرکز او ۱۸ ولسوالیو د اسلامي زده کړو د ۷۸ بابه خصوصي مرکزونو څخه څارنه او کنټرول تر سره شوی دی.

**۲,۳ فعالیت: فعالیت: د ۴۲۰ حافظانو او علماء کرامو د سویې تثبیت**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې د غزني ولایت د مرکز او ولسوالیو په کچه ۴۳۱ تنه علماء دولسم ټولګي ته، ۷۷۳ تنه علماء څوارلسم ټولګي ته او ۵۵۱ تنه حافظان تثبیت شوي دي.

**۲,۴ فعالیت: د غزني ولایت د مدرسینو د ظرفیت لوړولو په موخه د ورکشاپونو دایرول(۱۵۰)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې د مرکز څخه کوم ټیم د مدرسینو د روزلو په موخه نه دی راغلی. خو د اسلامي زده کړو آمریت له لوري ۲۰۰ تنه مدرسینو ته روزنه ورکړل شوې ده.

**۲,۵ فعالیت: د میتودیکي اړتیاؤ د معلومولو په موخه د اسلامي زده کړو په بنسټونو کې د مدرسینو او استادانو ارزونه(۱۵۰)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې د غزني ولایت د مرکز او ولسوالیو د ۲۱۰ تنه مدرسینو ارزونه تر سره شوې ده. چې د یادې ارزونې په ترڅ کې یې میتودیکي اړتیاوې په ګوته او لازمي سپارښتنې ورته شوي دي.

**۲,٦ فعالیت: د دارالعلومونو د اداري او تدریسي لوازمو د اړتیاوو بشپړول او تجهیزول(۱)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې د غزني ولایت په مرکز کې ۱ باب دارالعلوم په اداري او تدریسي لوازمو سمبال شوی دی.

**۲,۷ فعالیت: د طالب العلمانو لپاره د لیلیې رامنځته کول(۹٦)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې د غزني ولایت په مرکز کې ۳۷۵ تنه طالب العلمانو لپاره لیلیه رامنځ ته شوې ده.

**۲,۸ فعالیت: په دارالعلومونو کې د اختصاصي ازموینې له لارې د عالي دورې په ۱۳ او ۱۴ ټولګیو او د دارالعلوم په لومړنۍ دورې کې د جدیدالشمولانو جلب او جذب(۴۰۰)**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې د غزني ولایت د مرکز او ۱۸ ولسوالیو د اسلامي زده کړو په مرکزونو کې۱۲۸۴۳ تنه طالب العلمان چې ۵۷۸۴ تنه ښځینه دي جذب شوي دي. چې له دي جملې څخه یې۱۲۴۳۲ تنه طالب العلمان مدرسو کې،۱۷۴ تنه طالب العلمان دارالحفاظونو کې او۲۳۷طالب العلمان په دارالعلومونو کې جذب شوي دي.

**۲,۹ فعالیت: د ۲۲۰ مدرسو او د نویو دارالحفاظونو جوړول**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې د غزني ولایت په مرکز او ۱۸ ولسوالیو کې ۱۲۱ بابه د نارینه و مدرسې، ۴۷ بابه د ښځینه و مدرسې، ۱۲ بابه د نارینه و دارالحفاظونه او ۲ بابه د ښځینه و دارالحفاظونه ایجاد شوي دي.

**۲,۱۰ فعالیت: په غزني ولایت کې د ١٦ بابه کلیوالي مدرسو او دارالحفاظونو جوړول**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې د غزني ولایت په مرکز او ۱۸ ولسوالیو کې ۱۰۹ بابه کلیوالي مدرسې او ۵۳ بابه کلیوالي درالحفاظونه نوی ایجاد شوي دي.

**۲,۱۱ فعالیت: په غزني ولایت کې د ۴۵۷ بابه عمومي او کلیوالي مدرسو سمبالول/تجهیزول؛**

د۱۴۰۳مالي کال په جریان کې د غزني ولایت په مرکز او ۱۸ ولسوالیو کې ۲۷۳ بابه مدرسې په اړینو وسایلو سمبال شوې دي.

## ۳. د کیفیت تضمین

د ۱۴۰۳ کال په عملیاتي پلان کې د تضمین کیفیت برنامې ته دانډولیز لاسرسي  په برخه کې کوم فعالیت ندي ورکړل شوي.

## ۴. سرچینې او اداره

### ۴,۱ فعالیت: ښوونیزو او اداري مرکزونو او نویو تاسیس شویو ښوونځیو ته د تشکیل او کوډونو لیږدول(۱۰۰٪)

د۱۴۰۳مالي کال په جریان  کې  دبشري سرچینو عمـــــــــــــــــومي مدیریت له لوري ٪۴۷ سلني پوري ښوونیزو او اداري مرکزونو او نویو تاسیس شویو ښوونځیو ته تشکیل او کوډونه لیږل شوي دي.

### ۴,۲ فعالیت: ارتقاء تشکیل مکاتب  از ابتداییه به متوسطه و لیسه و ارتقای سائر نهاد های تعلیمی و اداری / د ښوونځیو د تشکیل لوړول له لومړني ښوونځي څخه منځنی او لیسې ته او نورو ښوونیزو اداري مرکزونو ته لوړول(۱۰۰٪)

د۱۴۰۳مالي کال په جریان  کې  د قانوني معیار د نه پوره کولو له امله کوم ښوونځي ارتقا نه ده کړې.

### ۴,۳ فعالیت: د طرحو، ساختارونو او تشکیلاتي احصایو نهایي کول او د منظورۍ او تطبیق په خاطر یې د ریاست الوزرا لوړ مقام ته لیږل(۱۰۰٪)

د۱۴۰۳مالي کال په جریان  کې  د مرکز څخه کومه طرحه د غزني ولایت ته نه ده رالیږل شوې.

### ۴,۴ فعالیت: د بشري سرچینو د پروسو ساده کول او سمون او د مرکزي او ولایتي ادارو د دندو د لایحو بیا کتنه او معیاري کول(۱۰۰٪)

د۱۴۰۳مالي کال په جریان  کې  د مرکز څخه کوم تیم د یاد فعالیت د اجرا په موخه نه دی راغلی.

### ۴,۵ فعالیت: د بریښنایي سیستم د تطبیق، د جنسونو د محاسبې او عامه جایدادونو (جنسونو، سامانونو، وسایطو اونورو ... ) د ثبت او د څارنې د څرنګوالي په موخه د یو تخنیکي تیم ټاکل او لېږل(۱)

د۱۴۰۳مالي کال په جریان  کې  د مرکز څخه کوم تیم د یاد فعالیت د اجرا په موخه نه دی راغلی.

### ۴,٦ فعالیت: په ولایتونو کې  د دیخیلو ادارو لخوا د ماینونو او چاودیدونکو موادو د خطرونو په اساس مسؤلینو، ښوونکو او زده کوونکو ته د زده کړې زمینه برابرول، لارښوود چمتو کول او پوسترونه ویشل)

د۱۴۰۳مالي کال په جریان  کې  د غزني ولایت په کچه ۳۰۷۰ تنه د ماینونو او چاودیدونکو موادو د خطرونو په هکله د چمتو شویو زده کړه ایزو برنامو څخه برخمن شوي دي.

### ۴,۷ فعالیت: په  غزني ولایت کې د اسلامي امارت د ۱۴۰۲ کال بودیجې څخه د بنسټیزو نیمه کاره پروژو (ښوونځیو، مدرسو او دارالحفاظونو) بشپړول(۹۱٦٦)

د۱۴۰۳مالي کال په جریان  کې  د ۱۴۰۲ مالي کال نیمه کاره پروژې نه دي بشپړې شوي.

### ۴,۸ فعالیت: د دولت او همکارو موسسو له بودیجې څخه د ساختماني پروژو جوړول(۱۰)

د۱۴۰۳مالي کال په جریان  کې  د همکارو موسسو له بودیجې څخه ۹ ساختماني پروژې جوړې شوي دي.

### ۴,۹ فعالیت: د ښوونځیو د ساتنې او پاملرنې او املاکو ریاست په همغږۍ سره د ولایتونو تیمونو له لارې د عادي او موسسو له بودیجې څخه ترمیماتي پروژو تطبیقول(۲۵)

